دويمه کچه

# ستا به په ما باور و نه شي



**ليکوال:** بيراج سينګ
**انځورګر:** برګاوي رودراراجو

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .

ستا به په ما باور و نه شي، خو زما
واقعاً خپل ښوونځی ډېر خوښېږي.



دا د منډو وهلو او لوبو کولو ډېر
ځایونه لري.



کله چې بیرون ډېره ګرمي
وي، دا یو ستر کتابتون لري،
چېرته چې ورځم او پټېږم.

خو زیاتره وختونه، زما ښوونځی ما ډېر نه خوښوي.





ته با په ما باور و نه کړې، زما ښوونځی یو
ستر ډنډ لري چېر ډېر کبان پکې دي.



کله چې زما ملګري ما سره خبرې نه
کوي او نور کسان زما له ځورولو
څخه ستړې شي، زه د ډنډ په غاړه
درېدل او د کبانو شمېرل خوښوم.

زه په ځينو کارونو کې ډېر تمبل يم، زما هر وخت له
ياده وځي چې په ډنډ کې ځومره کبان دي.



خو ته پوهېږې، زه دا ټول پېژنم: کوچني نيلا (بانجاني) کبان، هغوی تل يو ځای پاتې کېږي.
نارنجي کبان چې تور داغونه لري، خپل ټول وخت په تيږو باندې خوله لګولو باندې تېروي.
طلايي کبان ډېر متلون مزاج ثابتېدلای شي.
نقره يي کبان تل په عجله کې وي.
خو فقط يو سور کب دی چې سپين وزرونه لري...

څوک چې زما په ګومان
په ټولو کې يوازې دی.



ته به په ما باور و نه کړې، خو زه احساس کوم چې
هغه تر ټولو ځانګړی دی.



هغه د یوه سیوري په توګه حرکت کوي. یوازې زه پوهېږم چې
هغه په ډنډ کې چېرته اوسېږي او کله بیرون راوتل خوښوي.

کله کله زه په ساعتونه د هغه انتظار کوم او درسونه مې
قضا کېږي.







خبره دا ده چې زه په هیڅ
یو کار کې هم ښه نه یم.





زما سترګې کمزورې دي،
زما پوزه تل روانه وي
او کله چې زه خبرې کوم، دا
د چغه په توګه برېښي.

زما ښوونکي تل ما باندې چیغه
کوي او هیڅ څوک هم زما څنګ
ته کښېناستل نه خوښوي.



په حقیقت کې، زه په کارونو کې
دومره تمبل یم، چې کله کله خو زه
ژړلی هم نه شم.



ته به په ما باور و نه کړې، خو دا
هر څه سل په سلو کې رښتیا دي.



کله چې د چا پام نه وي، هغوی ما په څوک او په لغته وهي.

هوی د لیاړو او شګې کوچنۍ تیږې جوړوي چې ما وربانديې وولي.





او کله چې زه د ژړا لپاره سترګې بندې کړم،
زما چیغه زما دننه ونښلي،
او زه آن ساه هم نه شم اخیستلای.







زه په کارونو کې دومره تمبل یې چې زه آن په ساه اخیستلو کې هم ډېر ښه نه یم، همداسې معلومېږي. او خبرې، دا نو بس زما له خولې سمې نه وځي.

په حقیقت کې، زه چې څه فکر کوم زیاتره وخت هغه څه نه وي چې زه یې ویل غواړم. او زه چې څه کوم یا وایم، هغوی ټول بس په ما پورې خاندي.





ته به په ما باور و نه کړې،
خو زه هم ګڼ ملګري لرم.

دا تل زما تر ښنګ وي، د لېرې پرتو هغه هیوادونو کیسې راته بیانوي چې زه ورته له هغوی سره یو ځای په بیړه ورتللی شم.





زه پوهېږم چې دا بيخي
واقعيت نه لري.

ما دا له هغه کتابونو څخه منځته
راوړي چې ما لوستلي دي.



هلکان وايي چې زه د نجونو په څېر يم
او نجونې وايي زه د هغوی په څېر پياوړی او
زړَور نه يم



او ښايي هغوی رښتيا وايي. زه هغوی ته آن دا هم نه شم ولی چې کله زه په ځمکه ولوېږم او د هوا لپاره تيګا وهم نو کوم ځای مې خوږېږي.

او کله چې زه رښتیا هم هڅه
کوم، څیزونه مې له یاده وځي.
آن د خوشحالۍ څیزونه هم.



ښوونکې، آن هغه ښه ښوونکې هم، ما
ته په کتو خواشینې کېږي.

هغوی وايي چې زه یو ښه هلک یو او زه هوښیار
هم کېدای شم، خو زه کافي اندازه خواري نه
کوم.



ته به په ما باور و نه کړې،
خو زما خوښېږي چې خلک و خندوم.

زه په ټولګی، ګله حی د ښوونکی ړاته پام نه وي، سرارټونه کوم. لکه په خپل غوږ کی پنسل وهل، یا په خپله ژبه باندې د خپلې پوزې لمس کولو هڅه کول.



او کله کله، بس کله کله،
د یو چا به ورته پام شي او بېرته به راته مسکی شي –
او زه به خوښي احساس کړم.






خو خبره دا ده چې زه په هیڅ کار کې واقعاً ډېر تکړه نه یم.

په حقیقت کې، زه په کارونو کې دومره تمبل یم چې
زه ساده فکر هم نه شم کولای.

لکه چې زه توري تختې ته ګورم، دا راته
په تیاره کې د سمندر په څېر ښکاري، او د تباشیر
خطونه د څپو په څېر.

او کله چې د مطالعې لپاره خپل کتابونه پرانېزم، ما ته
مېږي ښکاري چې کښته پورته کېږي. زما سترګې، دا هم
ډېر درد کوي.



زه دومره ناکاره یم چې کله هم زه یو څوک وګورم چې
غوسه دی، زه فکر کوم چې دا زما له امله دی.

ته به په ما باور و نه کړې، خو هغه بله
ورځ یو څه ناآشنا پېښ شول.

زه د ډنډ پر غاړه وم، له سره مې د کبانو د
شمېرلو هڅه کوله، چې ما هغوی ولیدل
چې یو هلک یې اوبو ته ټېله کاوه.

هغه کټ مټ زما په څېر و..





کله چې مدیرې مونږ راوغوشتلو، بس هغه و
او زه وم. خبره دا ده چې زه په هیڅ کار کې هم
تکړه نه یم، او زه ډارېدلی وم. کله چې هغې
پوښتنه وکړه هغه ته چا ټېله ورکړه، حال دا
چې هغې ما ته کتل، هغه یوه خبره و نه کړه.

زه دهغه لپاره ډېر خواشینی شوم، رښتیا هم
ډېر زیات؛ آن ما به هم ویلی وی چې دا زه وم.
او بیا هغه خپله ګوته ما ته ونیوله.

ما خپلې سترګې پټې کړې
ما ساه نه شوه اخیستلای...

ته به پا ما باو و نه کړې، آن مدیرې هم و نه کړ، کله
چې هغه په نرم غږ وویل چې دا زه نه وم.



هغه ویل، ”خبره دا ده چې زه په هیڅ
کار کې تکړه نه یم... هلکان او نجونې،
دوی ما ځوروي. او ښوونکي، هغوی تل
ما باندې چیغې وهي...“

ما هغه ته وکتل او پوه شوم: یوازې زه نه وم.



# لاربښودونکي پوښتنې

1. د هلک په ښوونځي کې څه خوښيږي؟ ولې ښوونځی هلک نه خوښوي؟
2. تاسو د هلک د ښوونکو او ټولګیوالو په اړه څه فکر کوئ چې هغوی څه کوي؟
3. که چیرته تاسو یو کس و وینئ چې نور پرې ملنډې وهي نو څه به وکړئ؟
4. که چیرته تاسو د هلک له ټولګیوالو څخه وئ، نو څه مرسته به مو کړې وی؟
5. آیا یو ښه ملګری لرې؟ د هغه دې څه خوښیږي؟ په ټوله کې څه لرې؟ سور کب او هلک څه لري؟